# د Washington ایالت د والي د زده کړې د غیر رسمي منځګړي دفتر: ستراتیژک لومړیتوبونه



## ستراتیژک لومړیتوبونه

**د غیر رسمي شخړې حل**

OEO د هر هغه کس سره ملاتړ کوي چې د Washington د K-12 دولتي ښوونځیو په اړه پوښتني یا اندیښني لري.موږ تاسو ته معلومات، مراجعي، د اسبابو کتونه او نوري سرچیني درکولی شو.

د OEO مقننه ماموریت دا دی چې د فرصتونو په توپیرونو کې کمی وکړي.زموږ د ستراتیژک پلان لومړیتوب دا دی چې په فرصتونو کې توپیر کم کړل شي چې د دې لپاره موږ د خپل محدود شوي شخړی د حل په سرچینو تمرکز کوو، لکه غیر رسمي منځګړتوب او لارښوونې د K-12 د هغه زده کوونکو لپاره کوم چې:

- له ښوونځي څخه بهر دي، چې په دې کې هغه زده کوونکي هم شامل دي چې معلولیتونه لري او ښوونځي ته په جزوي توګه په ځینې ورځو راځي.
- نژادي او توکمیز خلک، تور پوستي یا اصلي خلک
- چې کور نه لري
- چې خپلوان یې پالنه کوي یا په رضاعي پاملرنه کې وي
- چې د ځوانانو د عدالت یا د ځوانانو د بیارغونې په سیستمونو کې ښکیل وي
- کډوال، مهاجر، پناه غوښتونکي، یا هغه مهاجر، زده کونکي یا کورنی چې مورنی ژبه (ژبې) یې انګلیسي نه وي
- هغه کسان چې د ریپ اراوند وید انټینسیو خدماتو (WISe) یا د ماشومانو د اوږدمهاله بستر شوي پروګرامونو (CLIP) له لارې ملاتړ ترلاسه کوي، یا
- ټرانس جنس یا بدیل جنس واله ځوان

*<u>ستراتیژۍ:</u>*

*چې د هغه کورنیو، زده کوونکو او ټولنو سره ښې اړیکې جوړې کړو چې په ښوونځیو کې په تعلیم کې انصاف ترلاسه کول غواړي څو د هغوی تجربو او پیاوړتیاو ته غوږ کیږدو او زده کړه ترې ترلاسه کړو*

*چې نور آنلاین وسایل چمتو کړو څو هغه عمومي پوښتنو ته ځواب ورکړو کوم چې زموږ د مستقیم مداخلې په لومړیتوبونو کې نه دي*

*چې د فرصتونو تعین وکړو څو د هغه انفرادي اندیښنو په رڼا کې سستمیټک بدلون رامنځته کړو چې موږ ته ښودل شوې دي*

**لاسرسی /همکاري**

زموږ د همکارۍ لومړیتوبونه د هغو ټولنو سره سمون لري چې زموږ د شخړو د حل په هڅو کې پرې ټینګار شوی. موږ به د هغه شخړو لپاره هم مواد او اسباب چمتو کوو کوم چې زموږ په ستراتیژک پلان کې شامل نه دي څو کورنۍ، زده کوونکي او ښوونکي همکارۍ ته وهڅوو.

*<u>ستراتیژۍ:</u>*

*د ټولنې، کورنۍ، زده کوونکي او ښوونکي د موسسو او دولتي اژانسونو سره به همکاري کوو څو په ګډه پروګرامونه او ورکشاپونه ترسره کړو*

*د موسسو، کورنۍ او زده کوونکي د ګروپونو سره به خپلې اړیکې نورې هم پیاوړې کړو، په داسې حال کې چې په ټول ایالت کې به د OEO په اړه پوهاوی زیات کړو*

*د ښه کیسې بیانولو څخه به استفاده وکړو څو د کورنۍ او زده کوونکي تجربې*
*د ښوونکو، پالیسي جوړوونکو او نورو کورنیو او ټولنو سره شریکې کړو*

**د پالیسی ملاتړ**

موږ به د فرصتونو تعین وکړو او نور فرصتونه به رامنځته کړو څو توکمیز انصاف، معلولیت او د رواني روغتیا انصاف ته ترفیع او وده ورکړو او د ښوونځي په سستم کې ژبې ته لاسرسی چمتو کړو موږ به د زده کونکو، کورنیو او ټولنو نظرونه او اندیښني د پالیسی په بحثونو او د پریکړې کولو په پروسو کې شامل کړو.

*<u>ستراتیژۍ:</u>*

*د ټولنې د موسسو، کورنیو او زده کوونکو سره به همکاري او ملاتړ وکړو څو د نژاد پرستی، تبعیض، او د ظلم د نور ډولونو سره مبارزه وکړو*

*د هغه ټولنې، کورنۍ او زده کوونکي له نظرونو څخه به زده کړه او استفاده وکړو چې معمولاً په پالیسي جوړولو کې ورته پام نه کیږي*

*د خپلې مشرۍ د رولونه څخه په ورکشاپونو کې استفاده وکړو څو د کورنۍ او زده کوونکي غږ ته پام راواړو*

WWW.OEO.WA.GOV

oeoinfo@gov.wa.gov

لید: موږ د یو داسې عامه زده کړې د سستم تصور کوو چې په هغې کې توکمپالنه، تبعیض، او د توپیر نور ډولونه له منځه ویوړل شي، څو هر زده کونکي ته ځواک ورکړل شي چې د خپل راتلونکي هیلې تعقیب کړي.

**موږ د خپلې خپلواکی، د نژاد پرستی ضد ارزښتونو، او ټولنو ته د ځواب ورکولو درناوی کوو. موږ به د یو ټیم په توګه د کورنیو، زده کوونکو او ټولنو څخه زده کړه وکړو او دې ماموریت ته به ترفیع ورکړو.**

ماموریت

موږ د کورنیو، ټولنو او ښوونځیو سره په ګډه کار کوو چې په شریکه ستونزې حل کړو څو د Washington د K-12 دولتي ښوونځیو هر زده کوونکی په بشپړه توګه زموږ سره همکاري وکړي او بریا ترلاسه کړي

زموږ رولونه

چې د K-12 زده کړې د سستم په اړه اندیښنو ته غوږ کیږدو او پوښتنو ته ځواب ورکړو

چې د غیر رسمي حل د اسبابو څخه استفاده وکړو څو د ستونزې په همکارۍ سره په حل کې ملاتړ وکړو او په زده کړه کې انصاف ته وده ورکړو

چې د کورنۍ او ټولنې د همکارۍ او سستمیټک بدلون په اړه ښوونه او روزنه وړاندې کړو

چې معلومات راټول کړو او رجحانات وپیژنو څو د زده کړې د پالیسي لپاره ښه وړاندیزونه چمتو کړو

Washington State Governor's Office of the Education Ombuds

1-866-297-2597 (د تیلیفوني لارې ترجمې خدمت چمتو کیږي)